EQTESAD

وزارت اقتصاد
MINISTRY OF ECONOM

شنبه (۲۱ اسد ۱۴۰۲) (۲۵ محرم ۱۴۴۵) (12 August 2023) سال دوم شماره دوم ۲ | ۲ صفحه

سرمقاله

## بانکونه په ملي اقتصاد کې څه اهمیت لري ؟ بانکونه د پانګې په تهیه کولو کې عمده رول لوبوي

ټولو ته جوته ده چې پروګرامونو ، پروژو او اقتصادي فعالیتو کې پانګه څومره ارزښ لري بلکه داسې ویلای شو چې د هر اقتصادي پروګرام د پرمخ وړلو لپاره د پانګې رول داسې دی لکه دانسان په بدن کې چې دوینې ارزښت اړین دی ، د پانګې پرته اقتصادي فعالیت هیڅ مانا نلري . بانکونه د خلکو مختلفه اندازه بیکاره پانګه راټولوي او په کار یې اچوي تر څو دغه پانګه د کاروبار په پایله کې نه یواځې زیاته شي بلکه د بیکاره کیدو څخه هم خوندي پاتي کیږي ، په ملي اقتصاد کې هغه کاروبارونه چې پانګې ته اړتیا لري د بانکو له لارې کولای شي چې پورونه ترلاسه کړي او خپل کاروبارونه غښتلي کړي همدارنګه د بانکي پانګئ له برکته په ملي اقتصاد کې د تولید هغه عوامل او وسایل چې بیکاره وي او پانګې ته اړتیا ولري کولای شي چې په سمه توګه پوره او په وخت استعمال شي. ددې تر څنګ کله چې په یو ملي اقتصاد کې داقتصادي پرمختیا لپاره هڅې پیل کیږي او د ملي اقتصاد د روانولو لپاره تولیدي عوامل په کار اچول پیل شي نو له هرې خوا نه دپانګې لپاره تقاضا زیاتیږي ، په همدې بنسټ داسې یو سازمان په دغه وخت کې باید رامنځته شي چې دا تفکیک کړای شي چې کوم کارونه لمړی او کوم کارونه بعدی تر سره کړي او ورسره ورسره د پانګې کموالي ته هم ځواب ووایي .د مالي تګلارې مطابق دې وخت کې ځینې کارونو ته کم او ځینو ته زیات پورونه ورکول کیږي او ددې کار د ښه اغیزمنتوب په خاطر بانک تر ټولو غوره اداره ده چې په دغه وخت کې کارونو د پیل پخاطر کم او زیات پورونه په مناسبه توګه ورکولای شي. بانکونه نه یواځې دا چې په پرمختګ کې رغنده رول لوبوی شي بلکه کولی شي چې په پرمختګ کې سیمه ایز انډولتوب هم رامنځته کړي په دې مانا چې لکه څنګه په ټولو ځایونو او سکتورونو کې یو شان اقتصادي فعالیتونه په یووخت کې شروع کیدای نه شي نو څکه بانک کولای شي چې په مختلفو ځایونو کې دخلکو د سپما د راټولو لو او خوندي ساتلو په موخه خپلې څانګې پرانیزي چې په دې کار سره به عام خلک په اسانئ سره ووکولای شي چې خپل پس انداز په ښه توګه د بیکاره کیدو او غرقیدو څخه وساتي . بانکونه د پورتنیو ارزښت لرونکو ځانګړتیاو تر څنګ اعتباري پانګه هم رامنځته کولای شي. د یوې سیمې دپرمختګ لپاره اړینه ده چې هلته اعتباري پانګه په زیاته پیمانه تولید شي څکه چې بغیر له دې نه بانکونه نه شي کولای چې ټولو برخو ته په یو وخت پانګه برابره کړي . د ملي اقتصادي وضعیت په ټینګښت کې بانکونه تر ټولو ستر رول لوبوي او بانکونه د اعتباري پانګې د استعمال په بنسټ کولای شي چې د یو هیواد اقتصادي وضعیت د ستونزمن بحران څخه په اسانئ سره وباسي یعنې د اړتیا په صورت کې په لویه پیمانه اعتباري پانګه تولیدوي او چیرته بانکونه وګوري چې هیواد د انفلاسیون له کبله ځوریږي نو دغه وخت کې بیا خپله اعتباري پانګه کموي تر څو دهیواد اقتصادي وضعیت د انفلاسیوني اثراتو څخه خلاص او اقتصاد بیرته په خپلو پښو ودریږي . دوخت او اقتصادي حالاتو مطابق بانکونه خپلې تګلارې جوړوي او د ضرورت په اساس ورته تغیر هم ورکوی . بانکونه مختلفې معاملې سرته رسوي چې له یوې خوا عامو خلکو ته اسانتیاوې رامنځته او له بلې خوا بانک ته هم یوه اندازه ګټه پاتې کیږي. اقتصادي ټینګښت تر ډیره پورې بانکي تګلارو پورې هم اړه لري. سوداګریز بانکونه د صادراتو د تشویق او لازیاتیدو په موخه اسانتیاوې رامنځته کوي او دا کار د تادیاتو په بیلانس هم مثبت اغیزه اچوي . صنعتي سکتور ته د پورونو ورکولو له کبله د ملي اقتصاد ډیری بې روزګاره کسانو ته د کارزمینه برابروي.

## د ریاست‌الوزراء اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه ترسره شوه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه د روان لمریز کال د اسد میاشتې په ۱۴مه نېټه د شنبې ورځ په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم پر تاکل شوو موضوعاتو بحث وشو. په یاده نوبتي ناسته کې تر هر اړخیز بحث وروسته د افغانستان ملي اقتصادي مشورتي بورډ د جوړېدو طرحه د اقتصادي کمېسیون د غړو وزارتونو د نظرونو په پام کې نیولو سره تایید شوه. د افغانستان ملي اقتصادي مشورتي بورډ به د اړتیا پر وخت د مهمو اقتصادي موضوعاتو په اړه حکومت ته اړینې مشورې ورکوي. په دغه بورډ کې به د افغانستان د پوهنتونونو استادان، د اقتصادي مسایلو متخصصین او همداراز د سوداګرو او صنعت‌کارانو استازي غړیتوب ولري. د اقتصادي کمېسیون په یاده ناسته کې د افغانستان د علومو اکاډمۍ په مشرۍ د صنعت او سوداګرۍ، کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ او عامې روغتیا وزارتونو او کابل ښاروالۍ څخه جوړې شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو له شرعي اصولو سره سم د چرګانو د ذبحې لپاره لارښود جوړ کړي او بیا یې د استفتاء لپاره مرکزي دارالافتاء ته وړاندې کړي. د علومو اکاډمۍ ته لارښوونه وشوه چې تر منظورۍ وروسته یاد لارښود په ټولو ولایتونو کې د چرګانو د ذبحې شرکتونو ته ابلاغ کړي او د مستهلکینو د حمایت کمېټه دې د یاد لارښود د تطبیق بهیر دوامدار وڅاري. همدارنګه په یاده نوبتي غونډه کې د ۴۱۴ میلیونو افغانیو په ارزښت د کابل ښاروالۍ د مشارکتي قراردادونو دوه پروژې په پرنسیپ کې منظورې شوې. د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ شهاب‌الدین دلاور او کور او ښار جوړولو وزارت سرپرست مولوي حمدالله نعماني او کابل ښاروالۍ استازو ته دنده وسپارل شوه، څو یاد قراردادونه له



شرعي اړخه وڅېړي او خپلې موندنې له اقتصادي کمېسیون سره شریکې کړي. د غونډې په پای کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت د استازي په ګډون د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د مرستیال په مشرۍ؛ صنعت او سوداګرۍ او اقتصاد وزارتونو څخه ګډې جوړې شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د خوست، پکتیا، پکتیکا او لوګر ولایتونو له ځنګلونو څخه نورو ولایتونو ته د سون وړ وچو لرګیو د انتقال له پروسې څخه د لیدنې په موخه سیمې ته سفر وکړي. نوموړې کمېټه دې د یادو ولایتونو د ولایتي مسوولینو په همغږۍ او د هغوی د نظرونو په پام کې نیولو سره خپل راپور د اقتصادي کمېسیون راتلونکي مجلس ته وړاندې کړي.

## تدویر جلسه کمیته انکشاف ولایتی PDC ولایت تخار



**تحت ریاست ملا خال‌محمد حقانی معاون والی ولایت تخار به سکریت محترم فداوالرحمن احمدی رئیس اقتصاد ولایت تخار در سالون جلسات مقام ولایت طبق اجندا برگزار شد.**

**۱- ارایه معلومات در مورد فعالیت‌های انکشاف اقتصادی امارت اسلامی طی سال ۱۴۰۲ توسط رئیس اقتصاد تخار به مرور گرفته شد.**

**۲ -ارایه گذارش کمیته موظف، در رابطه به بررسی و مراقبت از چگونگی رعایت تطبیق قانون کار در نهادهای امارتی و غیر امارتی به اساس حکم شماره ۷۶ ریاست الوزرا امارت اسلامی افغانستان.**

**۳- ارایه گذارش مختصر موسسه محترم آغا خان (AKF) مقیم تخار از جریان فعالیت‌های انجام شده و تحت کار خویش جریان سال ۱۴۰۲.**

**۴- در بحث آزاد اعضا کمیته با توافق همدیگر تشکیل یک کمیسیون به سرپرستی ریاست محترم فواید عامه، انکشاف دهات و آمریت میدان هوایی بخاطر تعقیب دو پروژه ملی منظور شده از بودجه امارت اسلامی افغانستان.**

**و در اخیر جلسه با دعایه خیر فلاح مردم افغانستان پایان یافت.**



## دیدار ریس اقتصاد ولایت کندز با مسوولین موسسات

**به روز چهارشنبه مورخ ۱۴۴۵/۱/۲۳ محترم دین غلام اسامه رئیس اقتصادولایت کندز با مسوولین موسسات محترم کمیته بین المللی نجات، هیت ناروی برای مهاجرین و اکتید در دفتر کاری خویش ملاقات نمودن در این دیدار روی تقویت هماهنگی و مکاتب دولتی که در طی سال جاری از جانب موسسات در سطح ولایت کندز ترمیم می‌گردد صحبت گردید. نخست مسوولین موسسات هریک به نوبه خویش در قسمت ترمیم مکاتب به محترم اسامه معلومات ارایه نمودند، متعاقباً محترم اسامه رئیس اقتصاد در قسمت حل مشکلات موسسات ایراد سخن نموده، افزود که ان شاالله در تفاهم با مقام محترم ولایت کندز و ریاست محترم معارف مشکلات پیش آمده حل خواهیم کرد.**

**در اخیر از موسسات خواست که تمام فعالیت‌های شانرا مطابق اصول و قانون حاکم انجام نمایند و ریاست اقتصاد درخدمت تمام موسسات می باشد.**

## د اسلامیک ریلیف مؤسسې د شېلټر او واش پروژې د نظارت راپور

د اقتصاد ریاست د وړاندیز او ولایت مقام د حکم په اساس د نظارت ټاکل شوي هیئت د ۱۴۰۲ کال د اسد میاشتې په (۱۵) نیټه د اسلامیک ریلیف مؤسسې د ګیان ولسوالی د شېلټرپروژې(چې په نوموړي پروژه کې ۱۴۷ بابه د سرپناه کورونه او ۴۸ بابه تشنابونه شامل دي) او واش پروژې (چې د دریو کلیو لپاره د څښلو پاکو اوبو رسونې شبکې پکې شاملې دي) د ساختماني کارونو څخه لیدنه ترسره کړه چې راپور یې په لاندې ډول دی. د اوبو رسونې شبکو چې کارونه تقریباً (۹۰) سلنه مخته تللي دي د عمومي, انتقالی او فرعي پایپونو د ټریچ کندنکاري یې په اکثره ځایونو کې  په نقشه کې د ډیزاین شوي اندازې څخه کمه وه ،همدارنګه د کورونو د ټاپونو لپاره د میتر باکسونه د ځمکې د طبیعي لیول څخه پورته لګیدلي وو چې د یخ وهنې  د خطر سره مخامخ وو ددې لپاره چې په ژمي کې د یخ وهنې همدارنګه د میتر بکس په برخه د پائپ د یخ کیدو څخه مخنیوي شوي باید د ځمکې د طبیعي لیول څخه لاندې ولګول شي,او د ټولو پایپونو کندنکاري باید د ډیزاین مطابق په ټولو ځایونو کې ترسره شي.



## په ارزگان ولایت کې ۱۲ سرې خونې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې

د سه شنبه ورځ چې د روان کال ۱٤٤٥/١/٢١ نیټې سره سمون خوري د ارزگان ولایت په مرکز ترینکوټ کښې (۱۲) سړې خونې ګټې اخیستنې ته و سپارل شوې، یادې خونې چې پر هره خونه باندې (۴۹۵۹۴۶) افغاني مصرف راغلی (۶۰) سلنه یې د افغانستان اسلامي امارت او (۴۰) سلنه یې کروندګرو مصرف ورکړی چې به هره خونه کښې به تقریبا (۱۶) ټنه سپین پیاز وساتل شي، چې نن ورځ یادو مراسمو ته د اقتصاد رئیس، د کرهنې رئیس، د اطلاعات او فرهنګ رئیس او د ولایت مقام استازي راغلي وو.



## توزیـع مـواد عذایـی در ولایـت غـور از طـرف سـازمان غذایـی جهـان (WFP)



شنبه مورخ ۱۴۴۵/۱/۱۹ مطابق به ۱۴۰۲/۵/۱۵ برای ۵۴۳۸ فامیل بی‌بضاعت در ولسوالی شهرک مواد غذایی توزیع شد.
این کمک ها از طرف سازمان غذایی جهان (WFP) تمویل و توسط موسسه (WASSA) تطبیق میگردد.
کمک های توزیع شده شامل:

۱. ۵۰ کیلوگرام آرد
۲. ۶،۲۵ کیلوگرام دال نخود
۳. ۵ کیلوگرام روغن
۴. ۱،۵ کیلوگرام حلوا گگ
۵. ۴،۵ کیلوگرام آرد مخصوص خانم های حامله و شیرده می باشد.

## برنامه انعطاف پذیری و معیشت جوامع (۵۷۶) با هماهنگی موسسه کمک‌های انسانی (CHA)

بتاریخ ۱۶ و ۱۷ برج جاری خورشیدی سمیع الرحمن رحمتی مدیر انجوهای ریاست اقتصاد پروان و انجنیر عبدالرحیم فرهنگی مدیر عمومی انکشافی این ریاست، همراه با تیم انجنیری ریاست احیاء و انکشاف دهات پروان از پروژه برنامه انعطاف پذیری و معیشت جوامع که از سوی موسسه هماهنگی کمک‌های انسانی با کمک مالی ((UNOPS در ولسوالی‌های جبل السراج و سیدخیل و در سطح (۱۴۱) شورای انکشافی قریه جات تطبیق می‌گردد، نظارت بعمل آورد.
طی برنامه نظارتی متذکره از پروژه‌های متعدد در روستاهای کارته مامورین، شیرالله خیل، عیسی خیل و کوچه پایان ولسوالی جبل السراج بازدید و نظارت بعمل آورد که پروژه متذکره در موقعیت‌های مختلف قرار ذیل می‌باشد:

۱. ۱۰۱ متر مکعب کانکریزریزی کوچه‌ها
۲. پاک کاری کانال بطول ۵۲۸۰ متر
۳. هموار کاری و جغل اندازی سرک بطول ۱۳۵۰ متر و عرض ۳.۵ متر
۴. جغل اندازی سرک بطول ۴۵۰ متر و عرض ۳ متر
۵. کانکریز سرکت بطول بیشتر از ۷۰ متر و عرض ۳ متر
۶. حفر یک حلقه چاه با عمق ۵۰ متر



صاحب امتیاز: وزارت اقتصاد
مدیر مسوول: علاوالدین «حق دوست»
هماهنگ کننده معلومات: عبدالرحمان «حبیب»
گردآوری خبر: محمد مسعود «عارفی»
ویراستار:تاج محمد «خیرخواه»
گزارشگر: نصرالله «رستم خیل»
عکاس: همایون «عطایی»
صفحه آرایی و طراحی گرافیک: محمد عمر «دوست»
ویب سایت: WWW.MOEC.GOV.AF

هفته نامه اقتصاد پذیرای مقالات تمام همکاران عزیز ما در داخل و خارج از وزارت اقتصاد می باشد.بنا از تمام شما عزیزان و قلم بدستان کشور خواهشمندیم تا مقالات تان را با ما از طریق ایمیل آدرس ذیل info@moec.gov.af شریک نمایید. مقالات باید اقتصادی و مرتبط به وزارت اقتصاد باشد!

هفته نامه اقتصاد
EQTESAD

## اعمـار و ترمیـم ۱۱۵ سـرپناه (شـلتر) در ولسـوالی تـگاب ولایـت کاپیسـا



طبق پلان نظارتی ریاست اقتصاد روح الله روئین انجنیر ساختمان این ریاست از جریان اعمار و ترمیم ۱۱۵ سرپناه (شلتر) در ولسوالی تگاب ولایت کاپیسا نظارت به عمل آورد.
این پروژه از طرف دفتر محترم (ECHO) تمویل و توسط موسسه محترم (NRC) در هماهنگی با ریاست اقتصاد و آمریت امور مهاجرین ولایت کاپیسا تطبیق میگردد.
که باحضور نماینده موسسه محترم (NRC) نظارت گردید کار این پروژه ۱۰۰ فیصد تکمیل گردیده در جریان نظارت از پروژه کدام نواقص جدی مشاهده نگردید.
از جمله ۱۱۵ خانه به تعداد۱۰۰ خانه آن شامل کتگوری جزئی و به تعداد ۱۵ خانه آن شامل کتگوری کُلی میشود. که برای هر خانه کُلی ۱۴۵۰ دالر و برای جزئی ۳۳۰ دالر آمریکایی از جانب موسسه محترم (NRC) پرداخت گردیده است.

## برنامه اختتامیه پروژه موسسه داکار (DACAAR) در ولایت غزنی

روز یکشنبه مورخ ۱۴۰۲/۵/۱۵ محترم مولوی نادرشاه شریف رئیس اقتصاد غزنی در برنامه اختتامیه پروژه موسسه داکار (DACAAR) در ولسوالی اندر در حالیکه روءسای و نمایندگان ادارات محترم احیاء و انکشاف دهات، معارف و صحت عامه همچنان حضور داشتند اشتراک نمود.
فعالیت موسسه نامبرده در مکتب خدیجه الکبری ولسوالی اندر شامل ایجاد یک شبکه آب‌رسانی به ظرفیت ۱۰۰۰۰ لیتر آب، تشناب‌های عصری، چاه سپتیک، دستشویی، ضمن تخته‌های شمسی همچنان در مدرسه قطب المدارس نیز ساخت شبکه آب‌رسانی به ظرفیت فوق، وسایر موارد که ذکر گردید توسط موسسه داکار (DACAAR) تکمیل و به سکتور مربوطه تسلیم داده شد.
از شبکه آبرسانی مکتب خدیجه الکبری به تعداد (۱۴۶۰) نفر با هزینه (۶۸۴۶۷۲۶) افغانی و همینطور از شبکه آبرسانی قطب المدارس حدوداً (۲۸۲۰) نفر با مصرف (۵۹۵۶۱۰۷) افغانی آب صحی استفاده نموده و مجموع مصارف هر دو پروژه جمعاً بالغ به (۱۲۸۰۲۸۳۳) افغانی می‌گردد.
محترم مولوی نادرشاه شریف رئیس اقتصاد غزنی در سخنان خویش از اهمیت اقتصادی و صحی دو پروژه تکمیل شده یادآور شده و همینطور چنین اظهار خرسندی نموده که آب مایع حیات بوده و نسبت به مصرف آن باید نهایت توجه گردد تا استفاده بی‌رویه از شبکه‌های موجوده صورت نگرفته و نسبت به ذخایر آبی محل و کشور خویش محتاط باشیم.
همچنان موصوف راجع به حفظ و مراقبت پروژه‌ها نیز تاکید کرده و خطاب به شوراها، قریه جات، متنفذین و مردم محل گفت طی اکمال دو شبکه آبرسانی صحی ضمن رفع مشکلات آب آشامیدنی مردم مبالغ هنگفت هزینه گردیده، بناءً حفظ وصیانت آن اکنون وظیفه تک تک مردم محل و مدارس مذکور بوده و درین راستا باید نهایت تلاش و توجه مبذول گردد.
مراسم با قطع نوار و ضمن دعای خیر، رشد وانکشاف کشور پایان و پروژه‌ها به بهره برداری سپرده شد.

